# د TUSD د بس موټر اړوند اصول او مقررات

د ترانسپورت ریاست ستاسو مرستې ته اړتیا لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هر زده کونکی په ډاډه توګه ښوونځي ته په خوندي او محفوظه توګه تګ راتګ کوي. دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې د زده کوونکي لیږدول د بس چلونکي تر مستقیم واک لاندې دي او دا د زده کوونکي مسؤولیت دی چې اړوند مقررات تعقیب کړي ترڅو په د سورلۍ په توګه په بس کې خپل امتیاز خوندي کړي. د عمل خطر یا جدیت ته په کتو، ممکن زده کوونکی د لومړي یا وروستي جرم له امله چې زده کوونکی یې ترسره کوي د ښوونیز کال د پاتې مودې لپاره د بس ترانسپورت امتیازات له لاسه ورکړي.
(EC §§ 44807؛ 48900؛ د اداري پلاوي پالیسي 5131.1)

ملکیت ته زیان رسول یا د بس په تمځایونو کې کثافات غورځول.

د ټاکل شوي بس را رسیدو وړاندې (5) دقیقې مخکې د بس په تمځای کې اوسئ.

په بس کې د ګرځنده تلیفون یا بریښنایي وسیله کارول.

بس ته د ختلو لپاره په لیکه کې ودرېږئ، او تر څو چې بس په بشپړه توګه په خپل تمځای کې نه وي درېدلی او دروازې یې په بشپړه توګه نه وي خلاصې شوې تر هغو د بس خوا ته مه ځئ. (له اصلي دروازې پرته له بلې لارې بس ته ننوتل یا ترې وتل، پرته له هغه صورته چې د بس چلوونکي لخوا یې لارښوونه وشي.)

بس ته د ختلو پر مهال نوبت مراعت کړئ، بس ته د پورته کېدو او یا کښته کېدو پر مهال په ناوړه طریقه د نورو د بدن سره تماس مه نیسئ (لکه جګړه کول، ټوپ وهل، وهل، ټکول، پورې وهل، وېښتان را کشول او داسې نور) مه کوئ.

په بس کې سملاسي مخته ځئ او مخ سیده کښېنئ، پښې مو د څوکۍ مخې ته د بس پر فرش باندې کښېږدئ. د بس د حرکت پر مهال همېشه ناست اوسئ. (د ناست پاتې کیدو څخه انکار کول، د څوکیو بدلول، پر څوکیو پورته کېدل یا ترې لاندې کېدل، له نورو زده کوونکو سره د څوکیو شریکولو څخه انکار کول)

د بدن هره برخه له کړکیو څخه بهر ایستل یا کوم شی د بس له کړکیو څخه بهر کول یا د بس دننه غورځول. (د بس د کړکیو له لارې لاسونه یا د بدن د نورو برخو ایستل)

په بس کې خواړه، څښاک، سګرېټ څکول، یا د اورلګېټ لګول. په بس کې کثافات غورځول.

سپکه ژبه کارول یا غلطې اشارې کول. په لوړ غږ خبرې کول یا شورماشور جوړول چې کیدای شي د موټر چلوونکي پام واړوي. (په لوړ غږ خبرې کول او/یا چیغې وهل، په بس کې د آرام یا ټیټ غږ ساتلو څخه ډډه کول)

په پښو، قدم یا نورو شیانو باندې د څوکیو او لاره کې خنډ جوړول.

ژوندي حیوانات (د لارې ښودلو او اشارې کولو سپي - په داسې حالاتو کې، موټر چلوونکی کولی شي معلومه کړي چې آیا د حیوان خوله بنده شوې ده)، خزندې یا حشرات باید په بس کې له ځان سره نه یوړل شي.

په بس کې لوی حجم لرونکي توکي، سکیټ بورډونه، سکواټران، بالونه، یا ښیښه اي لوښي له ځان سره راوړل.

د بس هرې برخې ته زیان رسول یا خرابول باید د مسؤولیت لرونکو اشخاصو والدینو یا سرپرستانو لخوا جبران شي.

د بس کنټرولونکو آلو، راډیو، خوندیتوب وسایلو، یا بیړني وتلو لارو باندې لاس وهل.

د تمځای د نښو، ترافیکي اشارو، د اورګاډي پټلۍ ته د رسیدو په وخت کې، یا د تیاره یا خرابې هوا پر مهال باید په بس کې چوپتیا وي.

همېشه د بس مخ ته پر هغه سړک تېرېږئ چې د موټر چلوونکي په اختیار او/یا د کنټرول لاندې وي.

له بس څخه یوازې په خپلو ټاکل شویو عادي ځایونو کې ښکته شئ، زده کوونکو ته اجازه نه ورکول کیږي چې د ټاکل شوي او مجاز تمځای پرته په نورو تمځایونو کې ښکته شي.

په دقت سره ټول قواعد وڅارئ او د موټر چلوونکي لارښوونو ته سملاسي ځواب ووایئ.

که چېرې د بس په تمځای کې د وړکتون د زده کوونکو اړوند یو بالغ شخص، یا د هغه استازی ونه لیدل شي، نو د وړکتون زده کوونکي بیرته ښوونځي ته وړل کیږي.

- **<u>د ناوړه چلند لومړی راپور</u>:** زده کوونکي د سیمه ییز مدیر او بس چلوونکي سره د بس اړوند مقرراتو بیاکتنه کوي. والدینو ته په لیکلي ډول خبر ورکول کیږي.
- **<u>د ناوړه چلند دوهم راپور</u>:** زده کوونکی باید د پنځو (5) ښوونیزو ورځو لپاره د بس له امتیازاتو څخه بې برخې شي. والدینو ته په لیکلي ډول خبر ورکول کیږي او غوښتنه ترې کیږي چې د ښوونځي د مدیر یا د هغه له استازي سره په یو کنفرانس کې برخه واخلي.
- **<u>د ناوړه چلند دریېم راپور</u>:** زده کوونکی باید د لسو (10) ښوونیزو ورځو لپاره د بس له امتیازاتو څخه بې برخې شي. والدینو ته په لیکلي ډول خبر ورکول کیږي او غوښتنه ترې کیږي چې د ښوونځي د مدیر یا د هغه له استازي سره په یو کنفرانس کې برخه واخلي.
- **<u>د ناوړه چلند څلورم راپور</u>:** زده کوونکی باید د پنځلسو (15) ښوونیزو ورځو لپاره د بس له امتیازاتو څخه بې برخې شي. والدینو ته په لیکلي ډول خبر ورکول کیږي او غوښتنه ترې کیږي چې د ښوونځي د مدیر یا د هغه له استازي سره په یو کنفرانس کې برخه واخلي.
- **<u>پنځم د ناوړه چلند راپور</u>.** زده کوونکي باید **دپاتې ښوونیز کال** لپاره د بس له امتیازاتو څخه بې برخې شي. والدینو ته په لیکلي ډول خبر ورکول کیږي او غوښتنه ترې کیږي چې د ښوونځي د مدیر یا د هغه له استازي سره په یو کنفرانس کې برخه واخلي.
- **<u>د بس اړوند استیناف پروسه:</u>**
(1) که چیرې والدین/ سرپرست غواړي د بس له خدماتو څخه د لرې کولو پر وړاندې اعتراض وکړي، نو لومړی باید د سایټ مدیر ته اعتراض وشي.
(2) که چیرې والدین/ سرپرست د سایټ مدیر له پریکړې راضي نه وي، والدین/ سرپرست کولای شي د زده کوونکو خدماتي ادارې ته اعتراض وکړي.

د جرم شدت ته په کتو، کېدای شي په لاندې مواردو کې په **اتومات** ډول په بس کې د تګ راتګ له امتیازاتو څخه بې برخې کېدل تطبیق شي:

أ. جنګ کول، غاښونه لګول، یا لاړې تو کول
ب. د بس چلوونکي، همکار، نورو زده کوونکو، یا عامو خلګو ته سپکې سپورې ویل یا بدې اشارې کول.
ج. بس یا شخصي ملکیت ته زیان رسول.
د. د کړکۍ یا بیړنۍ وتلو له لارې له بس څخه وتل (پرته د بیړني حالت پر مهال)
ه. هر ډول وسلې یا خطرناک توکي د ښوونځي په بس کې راوړل.
و. هر ډول اورلګیت، سګرېټ او/یا کنټرول شوي مواد د ښوونځي بس ته راوړل.
ز. هر وخت ښوونځي، ترانسپورت او/یا عامه چارواکي باید د زده کوونکو د بد چلند له امله بس ته ولیږدول شي.
ح. د موټر چلوونکي/ همکار او نورو زده کوونکو تهدیدول.

**یادښت: SPED/504 زده کونکي چې ځانګړي شرایط لري ممکن د قضیې په اساس استثنایي حالت ته په کتو د ملاتړ/هستوګنې پریکړه ولري.**